مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۱۰/۱۸

# غزل

## د جومات په دروازه

لکه سکروټې مې په زړه ذرې، ذرې پرتې دي
په وریت وجود مې د پېریو حماسې پرتې دي
د مستۍ شور مې نن په مړه وجود اثر نه لري
دلته بې شمېره راته مخ کې جنازې پرتې دي
کرار، کرار مې ساه وباسي په ښکاره مې وژني
زما او ژوند ترمنځه ډېرې فاصلې پرتې دي



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د بې ننګۍ ځپو وهـلي پـه ننګ ځـه پوهېږي
کچکول په لاس په سرکونو پښتني پـرتي دي
د سپينو ليچو او سرو شونډو ارمان نـه کومه
ستا ديدنونـو تـه اشنا لا بلا شپې پـرتي دي
يـه "پسرلېه"! ستا پـه شونډو خندا ولې نشته؟
همدا پوښتني د جومات په دروازې پرتي دي

**** **** ****

يادونه:

که چيرې ګران لوستونکی و غواړی چې د دی شاعر نوری ليکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چې، پر انځور باندی د «کليک» په اجرا کولو سره د ليکونکی مقالی د «آرشيف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

د جومات په دروازې

Mostafa_p_٦٤_de_jomaat_pa_darwaazey.pdf